مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی

۲۰۲۶/۰۶/۲۶

# ډاکټر ماهرنګ ولي په بند محکومه سوه؟

ډېر کلونه کېږي چې یــاران بــې شـرنګه سوي دي
زورد مــحتسب دی چـــي مستان بې بنګه سوي دي
ډیري به « ماهرنګي» د زندان زولنې ستړي کړي
نجوني ننګیـالی دي خو زلــمي بــي ننګه سوي دي
چــاته بــه پـلو د غـیرت نیـسي مـلالی نــجونــي
توري د ایوب مو لا پخوا بــي شــرنګه ســوي دي
شیخ دي د ډُري په زور نکاح کړي دري څلور حوري
زموږ یي په ماتم کي حجری بې ترنګه سوي دي
شیــخه تــا خوبونــه د هــمدي حــورو لیــدلي ول
نور دي په منبر باندي خطبې بدرنــګه سوي دي

د پنجاب د ترورېسټ رژیم د عدلیې وزارت د بلوڅو آزادي غوښتونکي قهرمانه لور ډاکټر ماهرنګ د ترورېستی فعالیتونو په تور په عمري بند محکومه کړه. په داسي حال کي چي ماهرنګ هیڅ وخت نه ترورېستی فعالیتونه کړي او نه یې د نورو ترورېستي ډلو فعالیتونه حمایه کړي دي. په حقیقت کي دا د پنجاب حکومت دی چي د یوه یا دوو کسانو د تروروټلو پر ځای یې د بشپړو ملتونو ترور کولو ته ملا تړلی ده. د ډاکټري ماهرنګ د ټولي مبارزې اساس د بلوڅو د آزادۍ چیغه او د بلوڅو د مظلوم قوم د حقه حقوقو غوښتنه وه. البته د پنجاب د جابر او د مظلومو قامونو د غاصب رژیم په نزد تر دې لویه ګناه نسته. د پنجاب رژیم به پر دغه ځای ونه دریږي. د هغه جابر نظام بندیخاني له پخوا د پښتنو او بلوڅو له آزادي غوښتونکو ډکي وې او لا به هم ډکیږي. خو نه د پښتنو او نه د بلوڅو د آزادۍ غوښتني تحریکونه نوي دي، نه یې قهرمان بچي او قهرماني لوڼي د جېلخانو سره نا بلدي لري او نه یې د حق د لاري د شهیدانو کمی دی.

موږ د افغانستان پښتنو، او په عمومي صورت افغانانو، د ماهرنګ او پښتین لپاره په چیغو ستوني څیري کړل مګر له هغوی څخه مو هیڅ زده نه کړل. زموږ وظیفه په تشو چیغو نه ختمیږي. موږ باید له دغو قهرمانانو څخه زده کړه وکړو. ډاکټري ماهرنګ د پاکستان د جابر نظام په مقابل کي چیغه پورته کړه او له چیغي سره یې په میلیونونو بلوڅان ملګري سول. منظور پښتین د پښتنو د حق ناره پورته کړه او د پښتنو په تاریخ کي یې د لومړي ځل لپاره له سوات څخه تر سند او بلوچستان پوري ټول پښتانه تر یوه بیرغ لاندي را غونډ کړل. خو موږ تش نندارہ کوونکي پاته سولو.

د هرات پر نجونو باندي باړونه ونه چلېدل؟ په لس هاوو نجوني په جېلخانو دننه نه سوې؟ د ننګرهار ډاکټره ګلالۍ د وحشي طالبانو په مقابل کي د خپل پت او عزت د ساتلو قرباني نه سوه؟ د کابل په سلهاوو نجوني او ښځي د طالبانو په جېلخانوکي ناستي نه دي؟ په عام محضر کي د افغانانو ښځي په دُرو نه وهلي کیږي؟ له بدخشانه تر نیمروز پوري د ټول افغانستان نجوني د تعلیم له مشروع حق څخه محرومي نه دي؟ موږ د هغوی لپاره څه وکړل؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

موږ د منظور پښتين له مبارزو څخه څه زده کړل؟ د منظور پښتين د تولي مبارزې کمال د پښتنو تر منځ د يووالي لپاره تلاښ دی. آيا موږ د دغسي يوه مقدس هدف لپاره يو ګام پورته کړی دی؟ موږ په افغانستان کي د ملي يووالي لپاره يو عملي ګام پورته کړی دی؟ چي تر څو ژوندي يو افغانستان به له تيارو څخه تيارو ته ځي. څکه خووايم:

نجوني ننګيالی دي خو زلمي بې ننګه سوي دي.



[په افغان جرمن آنلاين پورتال کی د جهانی صاحب آرشيف]



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ